PROPERTY OF ACKU

DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۱۷۲

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

دوولسم کال – دویمه دوره، ۱۱۷۲ مه گڼه، پر له پسې ۲۲۴۶ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د لیندۍ ۹ مه – د چهار شنبې ورځ، د ۱۴۳۳ هـ ق محرم الحرام ۵ مه د ۲۰۱۱ د نومبر ۳۰ مه

د نوي کابل د پروژې پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ زورواکان دي!

د نوي کابل د پروژې چارواکي وايي، يو شمېر زورواکي د دې پروژې پر وړاندې ستونزې او خنډونه جوړوي او په دې توګه هڅه کوي چې د دې پروژې د تطبیق مخه ونیسي. د نوي کابل د پراختیا د اداري مسوولانو ثر ګنده کړه سره له دې چې د وزیرانو شورا د پریکړې له مخې په کومه سیمه کې چې نوی کابل جوړیږي د ځمکې پیر او پلور منع شوی خو بیا هم یو شمېر کسان په دې سیمه کې ښار ګوټي جوړوي او یا هم ځمکې خرڅوي.

۳مخ

بازهم عملیات های شبانهٔ نیروهای خارجی؛

دو برادر قربانی عملیات های شبانه...؟!

در حالی که مردم افغانستان خواهان توقف عملیات های شبانهٔ نیروهای خارجی در کشور هستند، بازهم شماری از مردم ملکی در این عملیات ها کشته می شوند.

نیروهای آیساف می گویند که دو مخالف مسلح را در ولسوالی سرخرود ننگرهار کشته اند، ولی مردم محلی کشته شده گان را افراد ملکی می دانند.

باشنده گان ولسوالی سرخرود ننگرهار می گویند که نیروهای خارجی حوالی ساعت۱۲ شب گذشته وارد خانهٔ یکی از باشنده گان محل شده و ۲ فرد ملکی را کشته و ۲ تن دیگر را با خود بردند.

به گفتهٔ نزدیکان کشته شده گان، نیروهای خارجی و افغان ابتدا بالای پشت بام رفته و آنان را صدا زدند و زمانی که ۲ تن از باشنده گان منزل به صحن حویلی رفتند، از بام خانه بالای شان شلیک کردند و آنان را کشتند.

در حالی که نیروهای ص۳

د حاجي ګک کان هند او کاناډا وګاټه

له درېیو هندي کمپنیو څخه جوړ کنسورشیم او یوې کاناډایي کمپنۍ د حاجي ګک داوسپنې د کان د استخراج په داوطلبۍ کې ګټونکي اعلان شول. د هند د پولادو د دولتي شرکت (SAIL) په مشرۍ د څو کمپنیو کنسورشیم یا د شرکتونو ایتلاف، چې وړمه ورځ د حاجي ګک په څلورو برخو کې د درو د استخراجولو د امتیاز ګټونکي اعلان شو، ممکن د حاجي ګک د کان داوسپنې د استخراجولو لپاره د اوسپنې د ویلي کولو د فابریکې او داور ګاډي د پټلۍ پر جوړولو تر شپږ ملیارد ډالرو پورې پانګونه وکړي.

د افغانستان د کانونو جواد عمر وزارت ویندوی ازادي راډیو ته وویل، چې د حاجي ګک کان بي سي او دې برخې قرارداد له هندي شرکتونو سره تصویب شوي خو داې برخې قرارداد کاناډایي کمپنۍ ته ورکړای شوي دي. د ده په وینا چې له کاناډایي کمپنۍ او هندي کنسورشیم سره شوي قرارداد به یو ځل بیا د کابینې له لورې له څېړلو وروسته تصویب شي، جواد عمر وویل: «له وروستي تاییده وروسته به په راتلونکي کال کې د دې کان د تفحص او اکتشاف پراو پیل شي، ورپسې د تخنیکي مطالعو د راپور تر بشپړېدو وروسته د استخراج مرحله شروع کېږي چې دا کار پنځه یا اووه کاله وخت غواړي.» د افغانستان د کانونو د وزارت په وینا له اټکلونو سره سم حاجي ګک کان یو میلیون او اته لکه

۳مخ

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

پاکستان چرا از اشتراک در کنفرانس بن دوم طفره میرود؟

بعد از سپری شدن ده سال از کنفرانس اول بن قرار است به تاریخ ۵ دسمبر سال روان میلادی بار دوم کنفرانسی در ارتباط به اوضاع سیاسی، امنیتی و اقتصادی افغانستان، در بن دایر گردد که مسما به کنفرانس بن دوم است.

در این کنفرانس که نماینده گان بیش از ۹۰ کشور جهان، سازمانها و نهاد های مختلف اشتراک خواهند نمود در برابر تعهدات دراز مدت همکاری با افغانستان صحبت صورت خواهد گرفت.

اجندای کنفرانس دوم بن روی نحوهٔ مشارکت جهانی با افغانستان تمرکز بیشتر داشته و افغانستان تلاش خواهد نمود تا همکاری جامعهٔ جهانی را در بخش های سیاسی، امنیتی و اقتصادی در ده سال آینده به دست آرد.

در این کنفرانس سعی می گردد تا راه های بیرون رفت از اوضاع شکننده امنیتی در افغانستان و پیدا نمودن طرق ایجاد صلح با مخالفان دولت و تقویت روابط حسن همجواری با کشور های همجوار صحبت هایی به عمل آید.

ولی کشور های همسایه به ویژه پاکستان همواره از اشتراک در این نوع کنفرانس ها ومجالس که در ارتباط به صلح و امنیت افغانستان تدویر می یابد شانه خالی نموده و یا به نحوی از انحاء آنها را تحریم می نماید.

در حالیکه پاکستان پیش از این تایید کرده بود که در اجلاس بن شرکت خواهد کرد، اما به بهانهٔ حملهٔ اخیر ناتو در قلمرو آنکشور، رسانه های پاکستان گزارش دادند که این کشور به رسم اعتراض از شرکت در اجلاس بن دوم منصرف شده است.

گفته می شود یک مقام وزارت خارجه پاکستان به مقام های امریکایی گفته اند، به دلیل حمله اخیر نیروهای ناتو بر قلمرو پاکستان که در آن بیش از ۲۴ سرباز پاکستانی کشته شدند، در کنفرانس بن شرکت نمی کنند.

به نظر تحلیلگران امور سیاسی پاکستان به خاطری از اشتراک در این گونه مجالس که به صلح و امنیت افغانستان و منطقه مربوط باشد، اباء می ورزد که به خاطر حمایتش از گروه های افراطگرا و تروریستی مورد انتقاد جامعهٔ جهانی قرار گرفته و نمی تواند امتیازی به دست آرد.

هر گاه پاکستان فکر کند که به نحوی از انحاء از این کنفرانس ها امتیازی به دست می آورد با اشتیاق کامل در این نوع کنفرانسها اشتراک خواهد نمود.

همچنان آگاهان به این باور اند که حضور همسایه های افغانستان، از جمله ایران و پاکستان دراین اجلاس و توافق آنها با تصمیم های این کنفرانس برای افغانستان ومنطقه بسیار مهم و ارزشمند است.

زیرا نشست دوم بن که با حضور رییس جمهور افغانستان، مقام های بلند پایهٔ دولتی کشور های همسایه و نماینده گان با صلاحیت جامعهٔ بین المللی، درست ۱۰ سال پس از نخستین اجلاس اول بن که اساس نظام کنونی افغانستان گذاشته شد، برگزار می شود، برای افغانستان، کشور های منطقه و جامعهٔ جهانی از اهمیت زیادی برخوردار است.

د بون غونډې ته به څوک ځي او څنګه؟

لیکنه: ع.سمسور

تیر ځل خو په سیند کې ډوبه جاله وه، د طالبانو حکومت له منځه وړل شوی وو او په افغانستان کې د نوې اداري را منځ ته کولو لپاره هڅې روانې وې. نړیواله ټولنه چې په سرلیکه کې یې د امریکا متحده ایالتونه د اصلي لوبغاړي په توګه وو د جرمني په بون ښار کې سره راټول شول او د شمال ټلواله، روم، پیښور او د قبرس غونډو ناست افغانان یې ور سره کښینول، ډیروقومي کسانو، د روم او پیښور د غونډو برخه والو داسې ګڼله چې ګنې پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه ته به دهغه د څلویښت کلنې تجربې له مخې د نوي حکومت واګې ور وسپارل شي او خلک به د پخوا په شان سره راټول کړي. داسې د څوکې شوقیان اولویې پانګې پیداکولو لیونیان دې غونډې ته ور بلل شوي یا ورغلي وو چې د طالبانو د حکومت له ړنګولو یوه میاشت مخکې یې د باچا سیوری په ټوپک ویشته، خو د بون د غونډې پیل کیدو سره سم او لږ موده را وروسته د پاچا کلک حامیان شول او د هغه له نامه څخه یې ناوړه ګټه پورته کوله، چې وروسته یې بیا دهغه نوم په خوله هم نه اخیست.

دې غونډې ته د ورتلو لپاره هرچا د وژل شوي ښامار په وینو خپله چاړه سره کوله او ځان یې په بیلو بیلو ښکیلو بهرنیو کړیو پورې تړلی وو او آن داسې کسانو د قهرمانانو نوبیښې کولې چې د افغانستان په روان ناورین کې یې پوزه هم نه وه وینې شوې او د چاخبره د پښو پل یې په ایرو کې نه ښکاریده او هڅه یې کوله چې د افغانستان پر کړیدلي ولس باندې خپلې ګټې و تپې او ځان ته څوکې په لاس راوړي، په دې څوک نه پوهیدل چې څوک د چاله خوا څنګه دې غونډې ته ور بلل شوي او ور غلي دي.

هر انسان په طبیعي ډول د پنځو حواسو لرونکی وي او دا حواس د لیدلو، اوریدلو، بویولو، خوند، او لمس کولو حسونه دي، د پنځه ګونو حواسو تر څنګ د عقل (هوښ) او ژور فکر در لودل انسان له نورو ژویو څخه بیلوي او بل داچې دژور فکر کولو لپاره پوهه او تجربه لازمه خبره ده، خو د بون په لومړنۍ غونډه کې یو شمېر داسې کسانو برخه اخیستې وه چې د هغوی پنځه ګونه حواس دخلکو دغږ د اوریدلو، د کړیدلي اولس د ژوند او شرایطو دلیدلو او د خلکو د درد حس کولو په وړاندې له کاره لویدلي وو او د خولې خوند او بویولو حس یې د څوکې، قدرت او شهرت د شهوت په لوري ښه فعال وو خو هوښیاري، پوهه او تجربه دومره نه وه چې دافغانستان وران او ویجاړ حالت تحلیل او تشخیص کړی شي او د غونډې برخه والو او چلوونکو ته یې وړاندیز وکړي.

لکه څنګه چې دا غونډه په بېرنۍ توګه پیل شوه او ډیرمهم ټکي لکه له واکه د لرې شویو طالبانو او نورو وسلوالو او سیاسي ډلو راتلونکي، دګاونډیوهیوادونولاسوهنو او لمسوونکو چال چلندونو پر وړاندې د رغنده دریځ نشتوالی او د راغلیو بهرنیو ځواکونو د اوسیدلو څرنګوالی په پام کې ونه نیول شول چې وروسته د افغانستان او نړیوالو لپاره په ګرانه بیه پریوتل اوډیرې پېښې یې را منځ ته کړې اوزمور اولس یې له ډیرو ستونزو سره مخامخ کړ.

سره له دې چې دبون غونډې د ویجاړ افغانستان د بیا رغونې او یو لړ پرمختګونو ته لکه دلنډ مهاله اداري او د حکومت تشکیل جوړیدل، د اساسي قانون جوړیدل، د هیواد د مشر تابه لپاره ټاکنې، د ولسي جرګې، مشرانو جرګې اوولایتي شوراګانو ټاکنو، دلویو لارو او سړکونو رغاونه، د ښوونې اوروزنې پیل اوپراختیا او داسې نورو ته لاره پرانستله، خوتر څنګ یې یو لړ داسې نا خوالو را منځ ته شوې چې د افغانستان په ټولنه به دهغوی د ناوړه اغیزو سېوری تر ډیره غوړیدلی وي اود نا امنیو د لاملونو لپاره یې توده او پسته بستره جوړه کړه.

په خلکو او حکومت باندې د کورنیو او باندنیو غلو او داړه مارانو، ددولتي او عامه زمکو د غاصبینو او ملي شته منیو د چور تالان تر سره کونکو تپل او حاکم ګرځول، د قراردادونو لاس په لاس کول چې د پروژو په کیفیت باندې یې ناوړه اغیزه لرلې او پیسې شخصي جیبونو او دننه او دباندېنیو با نکونوته تللي د دې ناخوالو لویه برخه ده.

په دې وروستیو کې د امریکا د متحده ایالتونو له خوا پلټنو دا په ډاګه شوه چې د هغوی د مرسته شویو پیسو څومره برخه د افغانستان لپاره او څومره برخه له پلانونو څخه د باندې لګیدلې ده، د ټولټاکنو په بهیرونوکې له نا څرګندوسرچینو څخه د لوړشمیر پیسوتر لاسه کول او لګول چې دې عمل په خپله د باندنیو لاسوهنو لپاره لاره هواره کړې ده او نوماندانو هم د لګول شویو پیسو سرچینې د خلکو له پامه پټې وساتلې او همدارنګه د کابل بانک درسوایي شرموونکې پېښه د هغوی بیلګې دي.

همدارنګه زمور هیواد دسیمه ییزو او نړیوالو تربګنیو او رقابتونو ډګر جوړ شو او دجګړې تر ایرو لاندې سکروټو ته بیا لمن او پوکی ووهل شو چې د جګړې اور دا ځل د تاکتیکونو او تګلارې له مخې بله بڼه غوره کړې او د افغانستان خلک یې له ګڼوستونزو سره مخامخ کړي دي او د نا امنیو په اور کې سوځول کیږي، د خلکو او دولت ترمنځ او همدارنګه دخلکو د پرګنو او قومونو تر منځ بې باوري او بې اتفاقیو ته لمن ووهل شوه چې دې ټولو کړو وړو د را منځ ته شویو پر مختګونو او پراختیا یي کارو نو اعتبار ته لوی زیان رسولی دی.

د تیر کال (۲۰۱۰) د نوامبر میاشت دناتو ترون په غونډه کې چې په لزبون کې جوړه شوې وه د افغانستان حکومت مشر تابه د جرمني له حکومت څخه غوښتنه وکړه چې د د باندنیو چارو وزارتونو په کچه دې یو کنفرانس دایر شي چې د جرمني حکومت دهغه کوربه وي، د افغانستان حکومت به د هغه لار ښوونه کوي او د ملګرو ملتونواداره دې په کې مهم رول ولوبوي، دا کنفرانس به په درې لاندېنیو ټکو باندې څرخیږي:

- د افغانستان دولت ته د نظامي مسوولیتونو دسپارلو چارې تر ۲۰۱۴ کال پورې
- له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته له افغانستان سره دنړیوالې ټولنې اوړد مهاله ژمنې
- د هغې سیاسي پروسې لار ښوونه باید وشي چې په هیواد کې اوړد مهاله ثبات را منځ ته کوي

دا خبرې چې په برلین کې د افغانستان او پاکستان لپاره د جرمني حکومت ځانګړې استازي کړي دي او نوموړې کنفرانس یې ډیر مهم بللی او دا اوړدمهاله ثبات را وسته لو په پروسه باندې ډیر زور اچول شوی دی، نوموړي سفیر ویلي، مور غواړو چې افغانستان ددې توان پیدا کړي چې بیرته ۲۰۱۱ کال ته د یو سیاسي کال په توګه وګوري او نوموړي سیاسي بهیر باید له دوه اړخونو پرمخ لاړ شي:

یو دا چې ټولې توکمیزې ډلې باید داپروسه پریږدي چې په افغانستان کې پاتې شي او بل دا چې په همدې وخت کې د افغانستان ګاونډي هیوادونه او سیمه ییز قووتونه باید دا پروسه وژغوري، لکه څنګه چې د افغانستان ثبات دټولې سیمې له سیاسي ثبات سره تړاو لري ځکه نو د سیمې ټول هیوادونه باید د ثبات راوستلو په پروسه کې ونډه ولري، ددې کنفرانس لاس ته راوړنې به په هغو پرمختګونو پورې اړه ولري چې د ۲۰۱۱ کال په اوږدو کې منځ ته راغلې دي.

۳مخ

د نړۍ کابل دېروژې پر وړاندې...

د دې پروژې مسوول انجنیر غلام سخي حسنزاده د سې شنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې د دې ستونزې په اړه یې امنیتي ځواکونو ته هم خبر ورکړی دی: "اوس مهال چې کومو کمپنیو ته زمور او جایکاله خوا د نده سپارل شوې چې هلته خپل کارونه پرمخ بوځي له بده مرغه د ځینو زورواکو له خوا دوي ته ګواښ کیږي او نه پرېښودل کیږي خپل کارونه وکړي. دوی بیامور ته مراجعه کوي او دې ستونزې ته ګوته او وایي، چې مور ځنګه وکړو". ده ځرګنده کړه، چې د دې لوی بنار د ماسټرپلان جوړولو کارپنځه کاله مخکې د جاپان په مالي او تخنیکي مرسته پیل شوی او دا بنار د درې میلیونو کسانو د اوسیدو لپاره په پام کې نیول شوی. د بناري پراختیا وزارت چارواکي وایي، چې نوی کابل په ده سبزاو باریک اب ولسوالیو کې په کابو درې لکه اویازره جریبه ځمکه کې د خصوصي سکتور له خوا په پنځو پراونو کې په راتلونکو دیرشو کلونو کې جوړیږي. په عین حال کې جایکا یاد جاپان د نړیوالو همکاریو دادارې مسوولان وایي، چې د دې بنار د جوړولو لومړني پراو ته یې څلور میلیونه ډالر ځانګړي ګړي او په راتلونکي کې به هم په تخنیکي او مالي برخو کې د دوی همکاري دوام وکړي. په کابل کې د جایکا اداري یوه مسوول توشیوکي ایوامااوویل :"د نوي کابل بنار پراختیا په افغانستان کې یوه له لویو پروژو څخه ده چې د جایکا موسسې په غاړه اخیستې. د دې پروژې کار مور په ۲۰۰۶ میلادي کال کې پیل کړ او د دې بنار د پراختیا لپاره به زمور همکاري همداسې دوام وکړي، د دې پروژې د تطبیق لومړني کارونه پیل شوي دي".

په کابل بنار کې دوګړو او نقلیه وسایطو بې ساري زیاتیدل، په خپل سر د لوړ پوړو دانیو جوړول، د هوا خرابوالی او داسې نور د دې لامل شو تر څو افغان حکومت د نوي کابل بنار پر جوړ بدو فکر وکړي.

خو په کابل بنار کې فقیر او بې وزله خلک وایي، چې د دې بنار په ځیر د نوي کابل په پروژې کې به هم دوی د کور اخیستلو توان ونه لري، دوی له دولت څخه په دې برخه کې د پاملرنې او لازمې مرستې غوښتنه کوي.

د حاجي ګګ ګان هنداو ...

ټنه اوسپنه لري. د هندي کمپنیو کنسورشیم ویلي، چې بنایي د دې کان د استخراج لپاره پر سر کونو، د اور ګاډي پر پټلۍ او د وسپنې د ویلي کولو پر فابریکې شپږ ملیارد ډالره پانګونه وکړي.

د بون غونډې ته به څوک ...

د جرمني د استازي وینا دسولې او ثبات راوستلو په هکله یوه بنه نظریه ده خو عملي بڼه نه لري، ځکه ګاونډي او سمیه ییز قووتونه او همدارنګه د نړیوالې ټولنې ځینې حکومتونه، سیاسي اواستخباراتي کړۍ، افغانستان د سیاسي او نظامي لوبود ګړې په توګه کاروي چې په دې نیڅدې تیروڅوکلنو کې د هغه پایله اوسنی کړکیچن او ناڅرګنده حالت دی او هغه متل دلته په ځای ګټل کیږي چې وایي، (او به خړوه او کبان په کې نیسه).

که څه هم داخل د غونډې اجنداڅه ناڅه څرګنده ده خود بون لومړنۍ غونډې په څیر یو شمېر ډلو ټپلو او د خلکو په خبره چالاکه کسانو چې خپله د اوسنیو کړکیچنو او ناڅرګندو حالتونو په منځ ته راوړو کې لویه برخه لري هلې ځلې پیل کړي دي چې د خپلوڅوکیو او د اولس دوینې په بیه لاس ته راوړیو شتمنیو دسایتلو اولاډیرولو لپاره د افغانستان د ژغورلو تر نامه لاندې او یا د خلکو له سپیڅلو عقایدو او احساساتو څخه د ناوړه ګټو پورته کولو په بڼه د بون دویمې غونډې ته لاره پیدا کړي، خو داخل کیسه له پخوا څخه یو څه توپیرلري:

* د دولت داداري شته والی
* د ګډو نړیوالو نظامي قوتونو شته والی
* د افغانستان امنیتي اداره لکه دفاع، پولیس یا ساتندوی او ملي امنیت شته والی.
* د اساسي قانون او ځینو نورو قوانینو شته والی
* د اسامه ابن لادن کیسه پای ته رسیدل
* د دولتي، نا دولتي اداره او نړیوالو اداره او ځواکونو پر وړاندې کلک غبرګون او د مخالفینو بریدونه او نا ځرګنده امنیتي حالت.

سره له دې چې خلک کومه ځانګړې تمه نه لري خو بیا هم غوښتنه کیږي چې:

- داخل باید ډمه وار، د افغانستان، سیمې او نړۍ په مسایلو او حساسیتونو پوه کسان د ټول هیواد استازیتوب وکړي او ملي ګټې په پام کې ونیسي، نه د خپلې ډلې، تو کمیزې او شخصي ګټې.
- د بون د لومړنۍ غونډې کمزورې او کاواکه اړخونه او د ژمنو ترسره کیدل باید ترکتنې لاندې ونیول شي او د غونډې برخه والوته ور په ګوته شي څو لومړنۍ کمزورۍ بیا تکرار نه شي.
- د هغو هیوادونو حکومتونو، سیاسي او استخباراتي کړیو دریځ باید روښانه شي چې د افغانستان په ورانۍ او د خلکو په وژنه کې لاس لري او د وه مخې سیاست لوبوي، ځکه د جګړې ماشین دروند لګښت غواړي او سرچینه یې باید روښانه شي، کیدای شي اپین وبلل شي خو دا یوه برخه ده نه ټول لګښت. د مخالفو جګړه مارو افغاني ډلو دریځونه او سیاسي هویت باید له مخکې څرګند وي، که نه نو د هغوي له حامیانو او لمسوونکو سره باید په زغرده خبرې وشي او دا اوسنۍ ډیپلوماسي او پټ ناڅرګند دریځ د باور وړ نه دی، چې دا اوسنی کړکیچن حالت یې منځ ته راوړی دی.

دو برادر قربانی عملیات های...

آیساف ادعا می کنند، دو مخالف را کشته اند، مردم محل می گویند، بازمحمد و عیدمحمد با هم برادر بودند، یکی دهقان و دیگری چاه کن بود و هیچ رابطه یی با مخالفان دولت نداشتند!

گفتنی است که نیروهای خارجی ۲ تن از همسایگان آنان را نیز با خود برده اند که آنان نیز، مردمان عادی و غریبکار هستند و با کدام گروه مسلح ارتباط ندارند.

سخنگوی والی ننگرهار این رویداد را تأیید کرد، اما جزییاتی در این راستا ارایه نکرد. در همین حال، باشنده گان این منطقه هشدار می دهند که اگر نیروهای خارجی از کشتن مردم در خانه های شان دست نکشند، آنان علیه دولت سلاح برداشته و به مخالفان می پیوندند. این رویدادها در حالی رخ می دهد که مردم و مقام‌های کشور بارها و بارها خواهان توقف عملیات های شبانه و خودسرانهٔ نیروهای خارجی شده اند، اما کوچکترین توجهی در این راستا دیده نمی شود.

چندی پیش نیز، ۶ کودک در جریان حملهٔ هوایی نیروهای ناتو در ولایت قندهار کشته شده بود.

توقف حملات خودسرانه و شبانهٔ نیروهای خارجی از موضوعات مهمی بود که در جرگهٔ عنعنوی نیز، مورد بحث و بررسی قرار گرفت و یکی از شروط امضای پیمان با امریکا نیز، توقف عملیات های شبانه عنوان شد، اما باز شاهد هستیم که این عملیات ها و کشتار مردم بی گناه کشور همچنان ادامه دارد.

اراده با جوانان وعلاقه مندان

همکار همیشگی روزنامه محترم زاهد حساس، مطلب ارسالی شما به اداره مواصلت نمود با ابراز قدردانی از همکاری های همیشگی تان بخشی از مضمون تانرا چاپ می نماییم.

لویه جرگه ی عنعنوی که یکی از سنت های قدیم مردم افغانستان در درازنای تاریخ بوده و در آن مصالح علیای کشور و همچنان مصلحت های کلان ملی مورد بحث قرار می گیرد، نقش بارزی را در حل مشکلات عدیدهٔ این سرزمین بازی نموده و می کند. اما هستند افرادی که با به چنگ آوردن چند مشت پول از کشور های همسایه، اقدام به بدنام نمودن این چنین جرگه ها نموده و به اشاره دست باداران خارجی شان که عمدتاً به نفع کشور های همسایه آزمند و حریص کار می کنند، در صدد بدنام کردن آن برآمده و می خواهند ملت ما همچون دهه های قبل از به وجود آمدن دولت منتخب مردمی، مظلوم و محکوم گردیده و به این ترتیب محتاج کشور های همسایه گردند.

این گماشته شده گان کشور های همسایه که بیشتر بر علیه نظام منتخب مردمی ما در تریبیون های رسانه های خصوصی کشور به حیث آگاهان مسایل سیاسی و نظامی قرار می گیرند و حرف های استخبارات ایران و پاکستان را به زبان می آورند، که هر یک با بدنام ساختن دولت منتخب مردمی، در تلاش اند تا نظام موجود تضعیف گردیده تا باشد که یکبار دیگر پای اجیران و مزدوران کشور های بیگانه در افغانستان پهن گردیده و زمینه جنگ های فرسایشی و داخلی به حیث میدان نبرد منافع همسایه گان در کشور ما مساعد گردد. اما این موضوع را باید حالا نیک بدانند که دولت و ملت ما با بستن پیمان های استراتژیک با قدرت های بزرگ جهان و منطقه هیچگاهی این فرصت را برای آنان نخواهند داد تا بار دیگر بالای مردم ما حکمروایی نمایند.

در حالیکه مردم آب دیدهٔ ما امروز بیشتر از هر وقت دیگر به نفع و ضرر خود پی برده و این موضوع را نیک می دانند که داشتن پیمان راهبردی با یک قدرت جهانی چقدر پرستیژ و حیثیت ملی ما را بالا می برد.

در اخیر می خواهم این موضوع را به گماشته شده گان کشور های همسایه، منحیث یک افغان خاطر نشان سازم که اگر واقعاً مسلمان و شهروند این سرزمین هستید، نباید بیش از این پابوس رکاب نظامیان و سردمداران آن کشور ها باشید، بلکه حد اقل به حیث فرزند این آب و خاک به مردمی که امروز دارند سیر صعودی را برای رفاه و آسایش خود و فرزندان آیندهٔ خویش می پیمایند، فکر نموده و بعد به حیث تحلیلگر مسایل نظامی و سیاسی کشور در عقب تریبیون رسانه های خصوصی کشور نمایان شوید.

همکار گرانقدر محترم فرهاد دره یی محصل پوهنحی حقوق، ایمیل شما را دریافت نمودیم به امید همکاری های بعدی تان اینک قسمتی از نوشته شما را چاپ می نماییم. موفق باشید.

افغانستان دارای تاریخ (۵۰۰۰) ساله است، ملت قهرمان و سلحشور این وطن بخاطر منافع علیای کشور وآزادی این سرزمین جان های شیرین خود را قربان کرده اند که این ویژه گی شامل ملت های بزرگ وباهویت ملل جهان میباشد. برعلاوه موقعیت جیوپولیتیک وجیواستراتیژیک افغانستان باعث آن گردیده که کشور های مختلف به خصوص آنعده کشورهای منطقه که آزمندانه به آن نگاه می کنند، توسط عمال مزدور شان به این سرزمین دست درازی ومداخله کرده وچالش های فراوانی را درمسیر انکشاف و توسعه برای ما ایجاد کنند. در ضمن این همه، افراد و اشخاصی نیز وجود داشته که تحت اوامر باداران قسی القلب اجنبی شان با استفاده از واژه مقدس اسلام به این ملت خیانت های جبران ناپذیری را انجام داده اند که در اصل این همه اعمال جنایتکارانه اساس اسلامی نداشته ونه مطابق به کدام آئین دیگر میباشد.

کشورهای همسایه برای رنجاندن ملت مظلوم افغانستان از هر گونه امکانات برای رسیدن به اهداف شوم شان وانهدام پایه های اساسی نظام فعلی دریغ نمی ورزند.

به هر صورت افرادی که غلام کشورهای بیرونی میباشند همواره تربیون و دستگاه شایعه پراگنی های آن کشور ها قرار گرفته تا زمینه های حضور و نفوذ کشور های همسایه را در سرزمین ما مساعد ساخته تا از این طریق بتوانند دوباره قدرت از دست رفتهٔ خویش را حصول نمایند. اما آنها باید بدانند که دیگر ملت افغانستان آگاه وبیداراست وتوان تشخیص خوب وبد را دارند وهیچگاه فریب اغواگری وتوطیه های این حریصان قدرت وغلامان حلقه بگوش را نخواهند خورد.

همکار عزیز روزنامه محترم احمد ذکی هوشمند، ایمیل شما را حاوی مطلبی تحت عنوان "مؤفقیت ارگان های کشفی مدیون همکاری ملت ماست" دریافت نمودیم به امید همکاری های متداوم شما اینک بخشی از آنرا به زیور چاپ می آراییم.

مردم افغانستان امروز نسبت به هر وقت دیگر در همکاری خیلی ها نزدیک با نهادهای کشفی و امنیتی خویش قرار دارند. نیروهای امنیتی که شب و روز در تلاش اند تا فضا را برای تروریستان و دهشت افگنان تنگ تر ساخته تا نتوانند ملت ما را به اشارهٔ دست کشور های همسایه بیشتر از این متضرر ساخته و قربانی منافع خویش نمایند. در شرایط فعلی که جنگ استخباراتی کشور های منطقه و به خصوص همسایه های آزمند و حریص افغانستان مانند ایران و پاکستان به خاطر نفوذ و داشتن جای پا در کشور ما جریان دارد و هر یک در تلاش اند تا افغانستان را به میدان بزکشی تبدیل نموده و هدف خود را در دایره حلال برسانند، فعالیت نیروهای ارگان امنیت ملی سخت دشوار بوده و سعی و تلاش زیاد می خواهد تا همه مهار شوند، اما ملت آگاه و بیدار ما با همکاری های بی شایبهٔ خویش با این ارگان ها توانسته اند مرهمی بالای زخم مردم مسلمان و متدین خویش گذاشته و مصدر خوب خدمت برای برآورده شدن خواست های شان به خاطر تأمین صلح و ثبات در کشور باشند که ارگان های کشفی کشور ممنون و مدیون احسان و لطف شان می باشند.

دست آورد هایی که در این اواخر ارگان امنیت ملی کشور داشته است، از چندین جهت قابل ستایش است. اول اینکه مرحلهٔ دوم پروسهٔ انتقال مسؤولیت ها از نیرو های خارجی به قوای افغان در پیش روست و این دست آورد ها می تواند مردم ما را به این امر باورمند و متیقن بسازد که این روند انشاءالله به مؤفقیت می انجامد. دوم اینکه کنفرانس سرنوشت ساز دیگری که عبارت از «بن دوم» میباشد در راه است و این بدین معناست که افغانستان به یکی از کشور های مطرح در جهان تبدیل می شود که اجندای اصلی بسیاری از کنفرانس های جهانی و منطقه ای در محراق آن می چرخد و کشور های همسایه همانطور که برای همهٔ اقشار جامعهٔ ما هویداست نمی خواهند که یک افغانستان قدرتمند با داشتن پیمان های راهبردی و استراتیژیک در پهلوی شان زندگی توأم با رفاه و آسایش را داشته باشند. سوم اینکه تدویر لویه جرگهٔ عنعنوی که با کامیابی و مؤفقیت تمام به فضل و مرحمت خداوند متعال و با همکاری های بی دریغ ملت ما به همراه بود و نیروهای امنیتی کشور نیز شب و روز کوشش نمودند تا این برنامه مختل نشود، استخبارات کشور های همسایه و گماشتگان و وابسته گان شانرا سخت مأیوس و نا امید ساخته که با تلاش های گوناگون مؤفق به اخلال آن نگردیدند.

در اخیر به حیث یک افغان می خواهم از مردم مسلمان و متدین خویش اظهار سپاس و قدردانی نمایم که ارگان های کشفی خویش را در راه تأمین صلح و ثبات در کشور و همچنین ناکام ساختن دشمنان قسم خوردهٔ ملت ما مؤفق ساخته و از هیچ نوع همکاری دریغ نکردند که واقعاً قابل ستایش و تمجید هستند.

راځئ چې سره یو شو!

نظرمحمد "واحدیار"

ځومره چې زمایادېږي په افغانستان کې جنګ واولا تراوسه هم جنګ دی؛ داسې هم نه ښکاري، چې په نژدې وخت کې دا جنګ بند شي. که د افغانستان تاریخ ته وګورو، نوز مور اکثره وخت په جنګونو کې تیر شوی دی، کله به ټول یرغلګرو ته متحد شوو او له هغوی سره مو جنګ کاوه او کله چې به مو یرغلګر مات کړل، نو بیابه په خپلو کې ونښتو. کله مو دې جنګونو ته دجهاد نومونه ورکول او کله به د آزادۍ جنګ او کله به قوم او کلي جنګیده، جنګ په خپل ذات کې یو غلط شی دی او هر څه له منځه وړي. اخلاق، انسانیت، تمدن، امنیت، اقتصاد، تعلیم، اجتماع هغه څه دي، چې جنګ یې تباکوي. نتیجه دا ده، چې مور افغانان یو تباشوی ملت او مملکت یو، هر څه چې مو درلودل، د جنګ په توپان او سیلاب کې لاهو شوي دي. مور پاتې یو او دیرش میلونه جنګیالي او راته په سر سیمه ییز او نړیوال قدرتونه، چې غواړي خپل حساب په افغانستان کې تصفیه کړي. کله چې انګلیسانو پر هندوستان کې حکومت کاوه، نو یوه لویه لوبه دانګلیسانو او دروس د تزاریانو تر منځ په دې منطقه کې روانه وه، چې مور افغانانو په کې کافي زیانونه ولیدل او همیشه به ز مور ملک د جنګ میدان و. کله چې تزاریان نسکور شول، نو بیا دکمونستي روس او انګلیسانو تر منځ دالوبه ګرمه شوه او مور یې بیا هم د جنګ میدان و. چېرې، چا به چې د انګلیس پر ضد جنګ درلود، نو زمور ملک ورته په خدمت کې و، که هغه د هندوستان مسلمانان وو او که فرانسویان، که عثماني ترکان او که بیا جرمنیان و او نور. مور خپله غېره د هغوی دټولو جنګیالیو لپاره خلاصه ساتلې وه، چې له انګلیسانو سره جنګېدل بیا روسانو ته دا پلان شوی و، چې دوی به دافغانستان په مسئله کې راګیر شي او دویتنام انتقام دې ترې واخیستل شي. دې جنګ کې دافرق و، چې انګلیس سره مور د روسانو پر ضد ودرېدو او هغه تاریخي ماته مو کمونیزم ته ورکړه، چې چاپې فکر هم نه کاوه. دا له هغه جنګ سره مشابهت لري، چې جاپان تزاري روس ته په کې ماتې ورکړه او غربي نړۍ یې حیرانه کړه، چې اسیاکې هم داسې قوت شته، چې یو اروپایي ابرقدرت ته ماتې ورکړي. دافغانستان او روس جنګ داسې یو جنګ و، چې غربیانو هر څه ورته تیار کړي وو، خپل ټولو زورورو سره د امت اسلامي زوریې هم یو ځای کړی و. اسلامي ملکونو او اسلامي تنظیمونو دافکر کاوه، چې دې جنګ سره به اسلامي خلافت بیرته احیا شي. ز مور افغانانو ته کله هم دخپل جنګونو ګټه نه ده رسیدلې. ګټه یې یوازې هغو خلکو ته رسیږي، چې جنګ یې پلان کړی. مور خو پیاده جنګیالي یو، که د روسانو جنګ کاوه او یا مجاهدینو جنګ کاوه، مور یې پیاده عسکر وو او د جنګ د سون مواد! خو کله چې د وخت فیصله را ته، نو (ISI) ز مور پر ځای مذاکرات کول، د جنګ فایده غربیانو ته ورسیده، چې دکمونیزم ماتول یې هدف و. کمونیزم مات شو او غربیانو خپل د شرابو پیکونه د خوشحالۍ په شکل وجنګول او دا یې خپله فتحه وبلله. د جنګ فایده د پاکستان اردو او استخباراتو ته ورسېده، جنرالان یې میلیونران شول او بله دا چې، پاکستان پیاوړی او افغانستان کمزوری شو، چې او پاکستان ته څه نشي ویلی، خو که چېرې پاکستان ورباندې دوډۍ بنده کړه، نو د لوږې به مړه شي. دې جنګ کې مور افغانانو هیڅ لاسته رانه وړل، ځکه دا جنګ ز مور نه و او نه هم مور څه پلان ورته درلود. ز مور نصیب کې کنډوالې، خراب اقتصاد، ضعیفه رهبري او نور مصیبتونه راغلل، اوس هم بیا جنګ دی. دالس کاله کېږي، چې مور جنګ کاوه، ایا دا سوال مو له ځان نه کړی، چې ولې جنګ مو کاوه؟ ایا دا فکر مو کړی، چې دې جنګ کې زمور څه فایده ده؟ ایا دا فکر مو کړی، چې تر کومه به مور جنګیږو؟ په دې لس کلن جنګ کې، چې کوم طرفونه دخیل دي: غربیان + اسلامي تنظیمونه + هندوستان + پاکستان + ایران + روسیه + سعودي عرب او دنشه يي توکو قاچاق مافیا دي. جنګ خو بیا هم افغانان کوي، که طالبان وو او که حقاني ډله او که د حکمتیار اسلامي حزب دی، دا ټول افغان دي او د حکومت له خوا هم ز مور پولیس اردو دي، هم افغانان دي او که عام وګړي دي نو هم افغانان دي. جنګ نوی دی خو مړي په کې هم هغه افغانان دي. افغانستان د دنیا دقدرتونو د حساباتو د تصفیې میدان دی، د ځینو په قول دانسانانو دژوند لپاره د نوې ټکنالوژۍ دارزولو میدان دی. آیا دا جنګ به هم تر هغه دوام وکړي، چې امریکایان او غربیان مات شي، د نړۍ د اسلامي تنظیمونو خو همدغه پلان ښکاري. دوی دا اراده لري، چې په افغانستان کې غربیان مات کړي، د دوی منطق دادی، چې نور اسلامي ملکونو او ملتونو کې دا غیرت نشته، چې د غرب پر ضد وجنګیږي، نو افغانستان ددې کار لپاره ډیر ښه او مناسب ځای دی، خو دا خبره په ټولو هغو اسلامي ملکونو کې اپوټه ده، چې په افغانستان کې جنګ ته لمن وهي، د غربیانو حضور شته، له پاکستان نه نیولې تر قطر، کوېټ، سعودي، بحرین او نورو. که د دوی مقصد جهاد او د غربیانو په وړاندې دربدنه وي، ولې یې له هماغه ځای نه، نه شروع کوي، ولې ز مور ملک کې اور بلوي. دا جنګ ددین لپاره نه، بلکې د اقتصادي او سیاسي مقاصدو لپاره کېږي، بلې خواته دولتونه لکه پاکستان، ایران، روسیه، چین او هند دي، چې غواړي غربیان او خاصتا امریکایان دومره په افغانستان کې وجنګوي، چې اقتصاد یې خراب او بیا مات شي، خو پایله به یې بیا مور افغانانو ته یووران افغانستان وي. اقتصاد او ټولنه به مو ورانه شي، ارمانونه به مو له خاورو سره خاورې شي، له اوسنیو ستونزو دوتو یوه لاره دا هم کېدای شي، چې که جنګ کوو، دا باید ز مور خپل جنګ وي او که سوله کوو هم باید ز مور خپله سوله وي، که امریکایان له افغانستان نه وځي، نو باید آباد یې دې مور ته پریږدي نه داسې چې بل سره مو سودا کړي او دا به هله کېږي، چې افغانان ټول راویښ شي او خپل تقدیر په خپله ولیکي. متحد شي او دټولو پر وړاندې له خپلو حقوقو دفاع وکړي. اوسنی نسل باید آینده نسلونو ته یو سوکاله ملک په میراث پریږدي نه، چې ویجاړ او بې ثباته ملک.

خروج ۴۰ هزار سرباز ناتو از افغانستان تا پایان ۲۰۱۲

یک خبرگزاری غربی به نقل از مقام های نیروهای ایتلاف اعلام کرد، تا پایان سال ۲۰۱۲ میلادی، ۴۰ هزار نظامی خارجی از افغانستان خارج می شوند. به گزارش خبرگزاری اسوشیتدپرس، بر اساس برنامه های اعلام شده از سوی کشورهایی که هم اکنون نیروهای آنها در افغانستان حضور دارند، تا پایان سال آیندهٔ میلادی ۴۰ هزار نظامی از این کشور خارج می شوند. در این میان البته بیشترین خروج را نظامیان امریکایی انجام می دهند که بر اساس اعلام قبلی تا پایان سال ۲۰۱۲ میلادی، ۳۷ هزار سرباز ایالات متحده از افغانستان خارج می شوند. علاوه بر امریکا، ۴۹ کشور عضو نیروهای ایتلاف نیز، برنامه های خود را برای خروج از افغانستان اعلام کرده اند، اما با این وجود، برخی از آنها تمایل دارند که بخشی از نیروهای خود را با هدف آموزش نیروهای افغان در افغانستان حفظ کنند. بر اساس برنامه های اعلام شده، سال ۲۰۱۴ به عنوان سال پایانی جنگ افغانستان اعلام شده و از همین رو، کشورهای مختلف برنامه های خود برای خروج از این کشور را به اجرا گذاشته اند. البته خروج نظامیان برخی کشورها از افغانستان از سال جاری آغاز شده و بر همین اساس تا پایان دسمبر سال جاری میلادی ۱۴ هزار سرباز خارجی از افغانستان خارج خواهند شد. بر اساس این برنامه، تا پایان سال جاری میلادی، ۱۰ هزار سرباز امریکایی، دو هزار و ۸۵۰ عسکر کانادایی، ۴۰۰ نیروی فرانسوی به همراه ۴۰۰ نظامی بریتانیایی، ۲۰۰ سرباز پولندی، ۱۲۰ عسکر اسلوونیایی و در نهایت ۱۲۰ نظامی دنمارکی افغانستان را ترک می کنند. اسوشیتدپرس در ادامه می نویسد: اما در سال آینده، برنامهٔ خروج با سرعت بیشتری انجام می شود و در مقایسه با سال جاری، در سال ۲۰۱۲ میلادی ۴۰ هزار عسکر خارجی از افغانستان خارج می شوند و این یعنی ۲۶ هزار تن بیشتر از سال جاری و همین موضوع نگرانی هایی در میان برخی از افغان ها به وجود آورده؛ زیرا آنها معتقد اند، هنوز نیروهای اردوی ملی افغان توانایی لازم برای حفظ کنترول کشور را ندارند. بر اساس این گزارش، همانطور که اشاره شد، در سال آینده بیشترین خروج توسط عساکر امریکایی صورت می گیرد و از میان دیگر کشورها نیز، ۹۵۰ سرباز آلمانی، ۶۰۰ نیروی فرانسوی، ۵۰۰ بریتانیایی، ۴۰۰ پولندی، ۲۹۰ نظامی بلجیمی، ۱۵۶ اسپانیایی، و ۱۰۰ نظامی سویدنی از افغانستان خارج می شوند.

معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین

توقیف: هیچ کس نمیتواند از وضع شخصی توقیف شده بخاطر مجبور ساختن او به اعتراف و یا اینکه خودش و یا کدام شخص دیگر را متهم سازد، استفاده کند.

این پیام از طرف کمیسون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com
معاون: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Farhat yar
Editor: Khadem Ahmad
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com